مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولي ارين

۲۰۲۶/۰۵/۲۰

# ترخه یادونه

## د ذهن په هنداره کې د عيني خاطراتو انځور

حقيقت همدا دی، چې ژوند هغه هنداره ده، چې انسانان په کې د تېر او حال بيلا بيل انځورونه کتلی او ليدلی شي اوکله لا هم د همدغو انځورونو او کړنو د مثبتو او منفي اغيزو له امله مثبت او سالم انسانان د راتلونکي له پاره هغه څه کولای شي چې هم د ده په کې وقار او ګټه وي او هم يې ټولني ته مؤثر واقع کيدلای شي. خو ځنې انسانان بيا دومره مغزي کمزورتيا او عقلي تزلزل لري چې د خپلو کړنو هرڅه د خپل ژوند په هنداره کې ګوري او وينی يې چې نه د ده په کې خير دی او نه هم د ټولني په ګټه دي، خو بيا هم ورته دوام ورکوي، چې داسي کسانو ته د ذهني مريضانو خطاب کولای شو، او يا بې واکه، چې بل ورته هرڅه وايي او دوي يې عملي کوي.

رابه شم تيرو يادونه ته. هغه خورا جابر او ظالم انسان و، هيڅ ډول د مهرباني او انسان دوستی احساس يې نه درلود، زما په اند لکه چې مغزي نيمګړتياوي يې لرلی، خو په هغو چارو کې چې د ده ګټه وه بيا به خورا هوښيار شو، په سلګونو جريبه ځمکې يې په بيلابيلو دسيسو او طريقو د سېمې له اوسيدونکو نه تر لاسه کولی، د اسونو ګلې، د پسونو رمې يې درلودې، په لسګونو نوکران او خدايي خدمتګاران يې درلودل، د جلندر په نامه يې يو ناظردرلود چې د تور جلندر په نوم يې شهرت درلود، د هغه د (مالک) په امر به يې انسانان داړل، د جلندر مالک جګه قلا درلوده چې د قلا په ځلورو کونجونو کې يې د ليد او څار لوړ برجونه او تېر کشونه جوړ کړي وو.

هغه څلور ښځې لرلې، اته زامن او ديارلس لوڼې يې درلودې، هغه د کندز ولايت پرته د هېواد په درې ولايتونو کابل، مزارشريف او ننګرهار کې بنګلې درلودې، څلور مشر اولادونه يې د کورد کارونو دنده ورسپارلې وه، نور ټول د لوڼو په ګډون په يادو ولايتونو کې په زده کړو بوخت وو. د هغه ښاري ژوند نه خوښيده، نو ځکه په کلي کې اوسيده.

هو، مالک ياني ملک شيرو، هغه والګا موټر هم درلود، خو دی به تل پر اس باندې سپور ګرزيده، کله چې به پر لار تېريده، ماشومان او ښځينه به ترې پټيدل، د هر چا په چارو او کارونو به يې کار درلود، هيڅوک به ترې ارام نه و. حکومتي کسانو به له ولسوالی نه نيولی تر ولايته پورې له ملک شيرو سره ښې اړيکې درلودې، نو ځکه هر څه چې يې غوښتل هغه يې تر سره کولای شول، همدا لامل هم و، چې پر کليوالو يې د وهم او ډار جال خپور کړي و.

کليوالو ته به يې تل حتا په عمومي محافلو کې ويل چې: «ذامن مو مکتب ته مه پريږدئ، ځکه چې ستاسو له کنترول نه وزي، بې دينه کېږي، نجوني خو بلکل، مکتب ته د پرېښودو نه دي او له کوره يې بيرون مه پرېږدي چې بد نوم او بې حيا يې مو په برخه نه کړي.

ملک شيرو د کليوالو زامن او لوڼي يې له تعليم منع کولي، خو د ده خپلو اولادونو د هغه د لوڼو په ګډون په مزارشريف، ننګرها او کابل کې مکتبونه او پوهنتونونه لوستل.

ملک شيرو او ناظريې تور جلندر دومره کليوال تر اغيزې لاندې راوستي وو، چې هيڅا ورته دا جرأت نه شو کولای چې ورته ووايي، چې ستا اولادونه ولي زده کړې کوي او زموږ يې ونه کړي.

په ياد مې دي چې د ملک صاحب دغه کړنه کټ مټ، بيا را وروسته تنظيمي مشرانو ګلب‌الدين، برهان‌الدين، احمد شاه مسعود، پير ګيلاني، مجددي، خليلي، محقق او داسې نورو هېواد پلورو کاپي کړه، خو فرق يې دا و چې دوي د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

هېواد د مکتبونو د نجونو پر مخونو تيزاب شيندل، مکتبونه يې سوزول خو د دوی اولادونو او لونو هم د هېواده بهر په بهترينو مکتبونو او پوهنتونو کې زده کړې تر سره کولې.

ممکن هغه وخت ماته د ملک شيرو او د هغه د ناظر تور جلندر دغه ظالمانه او غير انساني اعمال طبعی او د دوي د غير نورمال کرکتر برخه ګڼل کېده، خو دا زما د هغه وخت د سوچ يوه ستره تېروتنه څکه وه چې ورستيو پېښنو او انکشافاتو دا په ډاګه کړه چې ملک شيرو يو عادي ملک نه و، بلکې د بهرنيو ايراني او پاکستاني استخباراتو سره يې اړيکې درلودې، همدا ډول نوموړی د ننګرهار د جمعيت د قوماندانانو له کورنيوسره نږدې تعلقات درلودل چې نيکونو يې د هېواد په تېر تاريخ کې د انګريزانو جاسوسي کوله.

وروسته بيا کله چې خلقيانو د يوه نظامي پاڅون له لارې د هېواد واکې تر لاسه کړې، ملک شېرو په لومړيو کې حکومت ته ځان خورا ورنږدې، کړ، خپله يې د سيمې د خلکو نه په جبر اخستل شوې ځمکې د خلقی فرمان پر اساس پر خلکو وويشلې، ملک شېرو خورا بدلون وکړ، خو کله چې روسانو پر افغانستان يرغل وکړ، هغه له سيمې نه پښې سپکې کړې، نيمه کورنۍ يې ايران ته او دی په خپله له يو شمېر نورو اولادونو سره پاکستان ته هجرت وکړ. او له هغه ځايه يې تر خپل مرګه پورې د خپل هېواد د ورانولو او هېواد والو د وژلو نه لاس وانه خيست.

کله نا کله زه په سوچونو کې داسې ورک شم او ځان سره فکر وکړم چې له زده کړو سره دوښمني، د ښوونځيو سوزول، د معلمينو وژل دا ولې؟.

د تعليم، علم، تکنالوژي او نورو مهمو اړتياوو چې ټولنه او بشريت ته د ژوند ضرورتونه او د ټولنې د پاينت، پرمختګ ضروري اړتياوي دي، ولې يې مخنيوی کېږي؟

که انسانان، يا يو تنظيم، يا يو ګروپ او يا کومه ډله چې د يوه نظام پر ضد فعاليت کوي، تر څو د ولسونو چاپېرياِل مغشوش کړي، يا نظام کمزوری کړي، ولسونه د نظام پر ضد راوپاروي، خو داسې اعمال تر سره کېږي او هغوي د خپلو موقتي موخو او د نظام د بدنامه کولو له پاره دا اعمال ترسره کوي او ليدل شوي هم دي ممکن مؤقتي او ډېر د حساب وړ نه و.

مګر اوس به راشو دې ته چې يو نظام يا حاکميت چې د هېواد د بشپړ حاکميت د تآمينولو، ارضي تماميت د ساتلو، د هېواد د پرمختګ او د هېوادوالو د حقه حقوقو د رعايت، بشري اسانتياوو، اجتماعي خدمتونو، هېوادوالو ته د تعليم، زده کړو، صحت او نورو عامه خدمتونو مسؤليت او مکلفيت په غاړه لري، دغه حاکميت څنګه کولای شي چې د تېرو خرابکارو په څېر د تعليم او زده کړو دروازې بندې کړي، څکه تېرو ترخو ازموينو په ډاګه کړې چې داسې عملونه د هغو ګروپونو او کسانو کار دی، چې د پرديو او افغان دښمنو استخبارتي کړيو له لورې ورته دستور ورکول کيده تر څو هېواد د علم، تخنيک، پرمختګ او سواد نه محروم وساتي.

له اوسني نظام او چارواکو نه د ولس غوښتنه همدا ده چې په دې هکله سوچ وکړي، د تعليم او پرمختګ دروازې پرانيزي، د ولسونو مشروع حقونو ته غاړه کېږدي او ځان له دغه شک او ترديد نه خلاص کړي، کنه دوی به هم د هېواد په تاريخ کې د تېرو هېواد او ولس دښمنو څېرو په قطار کې حساب شي او هغه يو شمېر افتخارات چې د هېواد د تجزيې مخنيوي، امنيت، د اقتصادی چارو پرمختګ، د ملکتوايفي او زورواکي ختمول او داسې نورې مثبتې چارې به يې هم له پوښتنو سره مخ شي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ